وینا څه ته وایي؟

وینا:

د مفاهمې یو شکل یا د کلمو یوه لړۍ ده چې په واسطه یې خپل افکار او نظریات له نورو سره شریکوو.

ویناوالي: له هغه فن او هنر څخه عبارت ده، چې په واسطه یې مخاطب تر خپل اغېز او تاثیر لاندې راوستلی شو.

وینا د الله یوه ستره ډالۍ ده، چې انسان یې له دغه لوی نعمت څخه برخمن کړو، انسان له پیدایښت وروسته لومړی وینا زده کړه، پېغمبرانو علیه السلام د الله تعالی سپېڅلی دین د وینا  پرمټ انسانانو ته ورساوه.

د وینا په اړه د علماوو نظرونه:

میچ کوستانزا وایي« تاسو باید د دې وړتیا ولرئ، چې په پښو ودرېږئ، او یوه داسې ننداره وړاندې کړئ چې قانع کوونکي او خلکو ته دمنلو وړ وي، دا ننداره کېدای شي چې د یو کس او یا هم د یوې ټولنې په وړاندې وي»

هټلر وایي« ګومان کوم چې دا زما  وړتیا وه، چې دومره ډېر خلک مې ځان ته متوجه کړل، او په دغې چاري سره زما افکارو پراختیا مونده»

ارسطو ته چا وویل« تر ټولو غوره خبره کومه ده؟ ارسطو ته ورته وویل، هغه خبره چې له عقل سره برابره وي. بیا ترې وپوښتل شول له هغې وروسته؟ ارسطو ورته وویل هغه خبره چې اورېدونکي یې ومني، بیا ترې وپوښتل شول له هغې وروسته کومه خبره غوره ده؟ ارسطو ورته وویل که هره وینا یو له دغو دوو څخه لرې وي، له زهرو بدتره ده.

## څنګه وینا وکړو:

دا هغه پوښتنه ده چې ځواب یې په څو اړخونو کې باید وویل شي، له ځانه باید وپوښتو؟

۱» وینا چا ته کوم؟

دا باید ځان ته معلومه کړئ چې چا ته وینا کوم، یا مخاطبان مې څوک دي، ایا لوستي دي که نا لوستي؟ سړي دي که مېرمنې؟ لویان دي که کوچنیان؟ ...

دې خبرو ته په پام کې نیولو سره باید د خپلې موضوع منځپانګه د مخاطبانو د غوښتنې سره سمه ده برابره کړئ، تل هڅه وکړئ د موضوع منځپانګه د مخاطبانو د سویې سره سمه برابره کړئ.

۲» ولې وینا کوم: « دا هغه پوښتنه ده چې د وینا اړتیا ښیي، ځینې خلک د وینا تکلیف لري، فکر کوي چې په هره غونډه کې د خبرو مستحق دی، او ناست خلک د ده خبرو ته اړتیا لري، او دی باید خبرې وکړي.

دغه ډله خلک که څه هم فصیحه وینا کړي، د خلکو نه خوښېږي، خبرې یې بې ارزښته کېږي او څوک یې نه خوښوي، مخکې له دې چې دغه خلک په وینا پیل وکړي، برخه وال په خپلو کې بنګېږي او ناوړه تبصرې پرې کوي.

څه باید وکړو؟

لومړی- د خبرو ځای باید وپېژنو، د اړتیا له مخې وینا وکړو او هغه غونډه کې چې خبرې کوو زمونږ د پوهې موقف او مسلک سره برابره ده که نه؟

دوهم ـ غوښتنه: په دې معنا چې خلک مو وغواړي، نه دا چې په خپله یا په زوره یو څوک دې ته اړ کړئ چې مونږ خبرو ته راوغواړي، ځیني خلک په وینا کې دومره بد معرفي شوي وي چې د وینا په پیل کې پرې خلک غږ کوي، چې بس دې کېنه، خو هغه بیا هم روان وي، دا کار نه یوازې دا چې اد هغه وینا بې ارزښته کوي، بلکې د هغې شخصیت هم سپکوي، له دې کاره باید ډډه وشي، هیڅ کله باید د اړتیا پرته وینا ونه کړو، هوښیاران متل کوي وایي.

(خبره ښه ده خو له نه ویلو ښه نه ده.)

۳- وینا څومره وکړو؟

دا هغه پوښتنه ده چې د غونډې محتوا او د مخاطبانو حوصله یې مونږ ته ځوابوي، ښه ویناوال هغه دی چې د وینا په پیل کې ځان ته وخت قید کړي او خپله وینا په ټاکلي

وخت کې را ونغاړي، عربي معقوله ده (( خيرالکلام ما قل د دل ولم يمل)) ښه وينا هغه ده چې لنډه، په دليل ولاړه او دردونکې نه وي.

۴- موضوع:

د موضوع په اړه بايد بشپړ معلومات راټول او څېړنه په کې وکړو، موضوع بايد ځان ته روښانه او په اړه يې بشپړ او هر اړخيز معلومات راټول کړو.

ويناوال: هغه څوک چې د يوې موضوع د بيانولو او روښانولو د يوې ډلې يا ټولنې مخې ته وردرېږي، او د خپلې موضوع اړوند معلومات له هغوی سره شريکوي.

د وينا لومړني شرطونه:

۱- افکار منطقي کړئ.
۲- د پيغام منځپانګه د مخاطبانو د غوښتنې سره سمه برابره کړئ.
۳- هڅه وکړئ چې، وينا په ضرب المثل يا متلونو سره پيل کړئ.
۴- په اطمنان سره خبرې کړئ.
۵- موضوع له وړاندې کولو څخه مخکې څو ځلې له ځان، ملګرو، د کورنۍ غړو په وړاندې تمرين کړئ، که امکان يې وي، له ځان څخه ويډيو وکړئ او غږ مو ثبت کړئ، که د کمرې د تاثير لاندې راځئ مه يې کاورئ.

د ويناوال او وياېند ترمنځ توپيرونه:

لومړی:
ورته والی:
د وړاندې کولو طرز
پيغام
ښه او مناسب غږ درلودل
په ځان اعتماد درلودل
له وينا څخه مخکې چمتووالی
دويم
توپيرونه:

- ويناوال د يوې ډلې په وړاندې خبرې کوي، خو وياند د مايکروفون او کمرې مخې ته خبرې کوي.

- ❖ په وینا کې زیاتره بهرنۍ ستونزې رامنځته کیږي، لکه د موټر غږونه، بهرنی شور ماشور... مګر د ویاند لپاره منظمه اومجهزه سټډیو وي او له دغه ستونزو په امان وي.
- ❖ په وینا کې سیاسي، اقتصادي، او فرهنګي موخې تعقیبیږي، مګر په ویندویۍ کې د اهداف سرګرمي یا ساعتیري رامنځته کوي.

**د ښې او اغېزمنې وينا لارې چارې**

د وينا پر وخت هغه ستونزې چې اکثره ويناوالان ورسره مخ وي.
د خلکو په مخکې خبرې کول يو ځه ستونزمن کار دی، که تاسو يو کس ته وينا کوئ او که سلو ته، مګر دلته خبره د جرئت ده .
ځينې کسان د ملګرو په مخ کې په ډېر ښه انداز او ډاډ سره خبرې کوي، که دا ډله کسان د دريځ يا ( خطابې ميز) ته ودرېږي، د يو څو خبرو ورسته يې مخ کې سورخي پيدا کېږي، ستونی يې وچېږي او خبرې يې له ياده وځي.
څنګه کولی شو چې له دې ډول ستونزو سره مقابله وکړو؟
۱ـ د مخاطب له سترګو سره اړيکه ونيسئ.

کوښښ وکړئ د مخاطبانو له سترګې وجنګوئ، سترګې مو ټيټې مه اچوئ، دا کومک به درسره وکړي چې د ارامی احساس وکړئ او خبرو لا جرئت درکوي.

ګټه يې: مخاطب به دا فکر وکړي چې زه ورته اهميت لرم، ځکه زما لور ته ګوري، مخاطب به د سترګو د اړيکې په واسطه د وينا تر پايه له ځان سره وساتئ. د وينا پر وخت په غونډه کې څو کسه داسې په نښه کړئ چې ملګري مو وي، څلور، پنځه ثانيې يو بيا بل ته وګورئ او بيا موږ سترګو مسير بدل کړئ.

۲ـ مخکې له مخکې متن ښه ولولئ:

مخکې تر دې چې د وينا لپاره د سټېج يا دريځ ته راځئ متن مو بايد ښه لوستلی وي، د وينا پر وخت صرف کاغذ ته وګورئ او بېرته سترګې د مخاطبانو لورته واړوئ، او خپلې موضوع ته دوام ورکړئ.

۳ـ دوينا پر وخت په ځای دوربېږئ او د بدنو غړي مو ډېر مه خوروئ (خوځوئ).

د وينا پر وخت مو يوازې لاسونه و خوځوئ، د بدن د هر غړي خوځول مو اعتماد کموي او د مخاطبانو پام بلې خوا ته ځي او په موخه مو نه پوهېږي. په اصلي خبره کې د خولې غږ او د لاسونو په اشاره ټينګار وکړئ.

ځېره(مخ): د وينا پر وخت مو بايد په خوله خندا وي، له مخاطبانو سره صميمي اوسئ که مو له جديت او احساساتو څخه کار واخيست، مخاطبين مه له لاسه ورکوئ، په وينا کولو کې بايد منځنۍ لاره غوره کړئ، ځينې وينا کوي خو په خبرو کې له احساساتو څخه کار اخلي، په ځېره يې غوسه معلومېږي، خپلې شونډې چيچي، چيغې وهي... اوس د چيغو وخت تېر دی او خلکو ته بايد په نرمه لهجه وينا وکړئ.

لباس( کالي): پاک او مناسب کالي واغوندئ دخپلې وسې په اندازه پاک کالي واغوندئ، په دې معنا نه (چې نوي کالي، کالي که زاړه وي خېر که ناپاک وي دا عېب دی). کله مو چې کالي واغوستل له ملګرو مو وپوښتئ چې کالي مې مناسب دي که نه؟ داسې کالي مه په تن کوئ چې ځ شخصيت مو تر پوښتنې لاندې راولي.

۶ـ غږ: په يوه لحن خبرې مه کوئ، په ډېر لوړ يا په ډېر ټيټ غږ مه غږېږئ، په مناسب ځای کې  کې خپل غږ لوړ او ټيټ کړئ.

که کلمه احساساتي وي احساساتي يې وښايئ، که تعجبي وي تعجبي او که پوښتنيزه وي پوښتنيزه يې وښايئ، په يو انداز خبرې مه کوئ ځکه په دغه حالت کې اورېدونکي درسره ستړي کېږي. د دې لپاره چې په دې چاره کې بريالي اوسو بايد څو ځله له ځان سره تمرين وکړو، له ځان څخه ويډيو او غږ ثبت کړو دا تر ټولو غوره لاره ده.

۷ـ مخاطب ته برخه ورکړئ.دوينا په بهير کې له مخاطب وپوښتئ لکه: همداسې نه ده؟ ولې؟ ها؟ اوس تاسو ووايئ چې څه مو کړی وای؟... دا دې لپاره چې هغوی هم درسره حاضر اوسي او لامتوجې شي دلته ويناوال د ځواب په طمعه نه وي چې ببرته د ستا د پوښتنې ځواب درکړي، بکلې غواړي هغوی ځان ته متوجه کړئ، يوه نيمه شوخي او ادبي ټوکه وکړئ، د داسې تجربو څخه کار واخلئ چې اورېدونکي درسره ستړي نه شي.

څو نورې سپارښتنې:

- مخکې له مخکې په ايينه کې وګورئ، چې ويښتان، پوزه او مخ مو جوړ دي که نه؟

- خپل مخاطب کنټرول کړئ.
- فکر وکړئ چې ملګري مې راته غوږ دي او مخاطبين مې ملګري دي.
- بې ځايه ټوکې مه کوئ، بلکې له موضوع سره مو بايد تړلي وي.
- د وينا له پیل مخکې یو ژوره سا واخلئ.
- په خپله موضوع تمرکز وکړئ، خبره بل خوا ته مه وړئ.
- د وينا په وخت په پوزه، خوله ويښتو او کاليو کې ګوتې مه وهئ.
- د لاسونو حرکت مو بايد د له جملې سره سر ولري، يعنې که جمله يو شي وي او ته دې د لاس حرکت بل شان جوړ کړې، ستا نيمګړتيا ښيي، د لاس حرکت هم د جملې له رسولو کې درسر مرسته کوي.

## د ښې وينا کولو شپږ کيلیانې:

ايا تاسو يو برياليي ويناوال يئ؟ ايا کولی شئ په وقفه يي ډول خبرې وکړئ؟ معلومه خبره ده ، چې ښه وينا کول يو هنر دی، او په اصل کې ښې خبرې کول په ژوند کې د کاميابۍ له رازونو شمېرل کيږي، څو لار ښووني راوړو که ترې استفاده وشي يو بريالی ويناوال به اوسئ، او په اسانۍ سره به د خلکو سره د خبرو له لارې اړيکه ټينګه کړئ.

### ۱- د وينا پر وخت د اعتماد او اطمنان حس ځان کې پيدا کړئ.

کله چې په يوې غونډه کې د دريځ سرته راځئ، په ناپاما يا نا خبره ډول په ارامۍ او اطمنان سره مخاطبانو ته پيغام انتقال کړئ، که په خبرو کې مو له فريب او د دوکې څخه کار واخيست؛ بې له شکه چې مخاطيين مو هغه څه حس کوي چې تاسو يې له هغوی ته انتقالوئ، ځان ډاډه کړئ، په هغه څه چې غواړئ خبرې وکړئ، پوره تسلط ولرئ او په موضوع حاکم اوسئ.

### ۲- په زړه پورې او زړه راښکوني مطلبونه وړاندې کړئ:

که غواړئ خلکو ته مو خبرې جالبې او په زړه پورې وي، د مخاطبانو غوښتنې نظر کې ونیسئ، هڅه وکړئ له کتابونو، مجلو، ورځپاڼو، انټرنیټ او یا هم له نورو سرچینو څخه داسې څه پیدا کړئ چې نوي او خلکو ته په زړه پورې وي، هغه څه چې خلکو ته وایئ مخکې له مخکې یې لنډیز له ځان سره ولیکئ، او د خبرو په وخت کې پرې نظر واچوئ تر څو و وینا په وخت کې درنه هېر نه شي.

**۳ـ په یوې په زړه پورې خو اسانې پوښتنې سره پیل وکړئ:**

د خبرو په سر کې د یوې اسانې خو په زړه پورې پوښتنې مطرح کول ستاسو په مخاطبینو کې یو ډول احساس او انګیزه پیدا کوي او خبرو ته مو زیاته توجه کوي،

په پوښتنه کې مو ښکلې او په زړه پورې کلمې وکاروئ، او په داسې یو انداز یې پیل کړئ، چې په عین سادګۍ کې جذابیت هم ولري.

**۴ـ له انرژۍ ډکې او انګیزه لرونکې خبرې وکړئ:**

ډېر کله هغه کسان چې د خبرو په وخت کې له کومې مخالفې نظریې سره مخ شي، له نورو خبرو یې زړه موړ شي او یا له هغوی سره ډیالوګ شروع کوي، بریالي کسان تل د خپلو مخاطبانو په وړاندې په پوره انرژۍ او جرئت سره خبرې وکړئ، او د هغه کسانو خبرې نه نفي یا قطع کوئ، چې ستاسو په وړاندې یې کوي.

((ریموند مورتمیر)) د ښه اوتکړه ویناوال په اړه وایي (ښه ویناوال هغه نه دی، چې د بل د شوټ په مقابل کې شوټ ووهي؛ بلکې ښه ویناوال هغه دی چې د ګلف (سنوکر) د لوبغاړي په څېر چلند وکړي، چې په یوه شوټ سره توپ هغه ژور غالي ته ورسوي چې هدف یې دی.

۵ـ د خپلو مخاطبانو سره باید د سترګو اړیکه ولرئ:

د ښې وینا کولو تر ټولو ښه هنر دا دی، چې د خبرو کولو په وخت کې له خپلو مخاطبینو سره د سترګو رابطه ولرئ؛ ترڅو هغه کسان چې تاسو ورته وینا کوئ د ځان خوا ته متوجه کړئ.

۶ـ تمرین، تمرین، تمرین:

که غواړئ ښه ویناوال شئ، د تمرین پرته بله د بریالیتوب لار نشته.

چېرته تمرین وکړو؟

هڅه وکړئ؛ د هنداريې، ملګرو، د کورنۍ د غړو مخ ته ودرېږئ او خبرې ورته وکړئ، که امکان يې له ځان څخه ويډيو او غږ ثبت کړئ، دا د تمرين تر ټولو ښه ډول دی، ځکه دا مو نيمګړتياوې درته ښايي، که د کمرې تر تاثير لاندې راځئ مه يې کاروئ.

دې ته بايد پوره تياری ولرئ، کېدای شي کوم ناست کس د اړوندې موضوع په اړه پوښتنه کړي، تاسو بايد هغه ته قناع کوونکی ځواب ووېلی شئ.

څو لارښوونې:

- **د موضوع په اړه لازمه څېړنه وکړئ:**

د دې لپاره چې د ښې وينا کولو مهارت زده کړئ، لومړی بايد په موضوع پوره حاکميت ولرئ، او له هغه څه څخه چې غواړئ ويې وايئ ځان ډاډه کړئ، هغه څه په اړه چې غواړئ خپلو مخاطبانو ته يې ووايئ؛ په اړه يې پوره مطالعه او څېړنه وکړئ، کتابتونه مطالعه او انټرنيټ کې پسې وګرځئ او د اړوندې موضوع په اړه له متخصصو او پوهانو سره خبرې وکړئ، تر څو معلومات مو بشپړ شي، څومره چې د ټاکلې موضوع په اړه ډېر معلومات ولرئ، په هماغه کچه به مو په ځان باور هم ډېر وي، او د بيا د دې لامل کيږي چې په ډېر جرئت سره وينا وکړئ او د چا تر تاثير لاندې نه راځئ.

- **هغه چاته چې وينا کوئ ويې پېژنئ:**
  که غواړئ چې د وينا مهارت مو لوړ شي، هغه کسان وپېژنئ چې وينا ورته کوئ، په اړه يې فکر وکړئ، که مخاطبان مو ټولګيوال وي څنګه کولی شئ د هغوی توجه جلب کړئ، خو که مخاطبان مو کارپوهان او لوړ پوړي چارواکي وو، بيا هڅه وکړئ معياري او علمي کلمې وکاروئ.
  که وينا ته ناست کسان تنکي ځوانان او ماشومان وي، دا غوره ده چې په ساده او عاميانه ژبه خبرې ژبه ورته خبرې وکړئ، تر څو خبرې مو حساسې او ښه اغېز وکړي.
- **درکړل شوی وخت مديريت کړئ:** که درکړل شوی وخت محدود وو، ښه خبره چې له زياتو خبرو ډډه وکړئ او ژر تر ژره اصلي موضوع ته راشئ، که وخت محدود او ټاکل شوی نه وي، ښه ده چې له خپلې خوښې سره سمې خبرې وکړئ، هسې نه چې وخت وي او تاسو د خبرو لپاره له ځان سره څه ونه لرئ،

د موضوع په اړه باید بشپړه او هر اړخیزه څېړنه او مطالعه وکړئ، تر څو په د وړاندې کولو په وخت کې د معلوماتو له کمي سره مخ نه شئ.

- **له نویو امکاناتو څخه ګټه پورته کړئ**: د وینا پر وخت له مایک، ساز و سرود، سلایډ او پروجکټور څخه ګټه اخیستنه ډېره ګټوره ده، او کولی شي د ناستو کسانو توجه ځان ته جلب کړئ.
- **وینا مو باید مخکې له مخکي ترتیب کړئ**: که مو د خپلې وینا هره برخه مخکې له مخکې ترببب او منظمه کړې وي، د ښې وینا په مهارت کې در سره مرسته کولی شي،

ښه وینا لکه د مقالې په څېر باید اصلي او مهمې برخې ولري.

هره وینا درې برخې لري.

**لومړي: پېل یا مقدمه** : له هر څه د مخه مو د وینا اصلي ټکي معرفي کړئ، او ناستو کسانو ته وویاست چې د څه په اړه خبرې کوئ.

منځ یا اصلي برخه: په منځنۍ برخه کې هغه څه چې د وینا منځپانګه مو ده له مخاطبانو سره شریکه کړئ، د اصلي موضوع په پېل کې باید له یوه غږیز یا انځوریز فایل څخه ګټه پورته کړئ، ځکه دغه څه له تاسو سره مرسته کوي، چې د موضوع په اصلي برخه کې پرې ډېرې خبرې وکړئ.

پایله یا وروستۍ برخه: د پایلې یا نتیجه ګیرۍ پر وخت یو ځل بیا د وینا مهمو ټکو ته اشاره وکړئ او هغه څه چې لازم دي د وینا په وروستۍ برخه کې ورڅخه یادونه وکرئ، کېدای شي څوک د وینا په پای کې راغلي وي، هغوی به هم د وینا له موضوع او معلوماتو څخه خبر شي.

د عامه وینا لپاره لس لارښوونې:

عمومي وینا هغه ده چې د پیغام لېږدونکی د خلکو په یوه لویه غونډه، کنفرانس، ورکشاپ یا سمینار کې خبرې کوي.

ځیني وختونه وینا کوونکي د خبرو په پېل کې نارامه بریښي، دا ددې معنا لري چې وینا کوونکی غواړي، په ډېر ښه ډول سره خبرې وکړي؛ او ډېر زیات نا آرامه کېدل د زیان سبب کېدای شي دلته به هغه لارښوونې او مشورې درسره شریکې کړل شي چې د وینا لپاره اغېزمنې تمامېدای شي.

❖ هغه تالار یا کوټه پېژندل چې تاسو په کې وینا کوئ: هغه ځای سره ځان اشنا کړئ، چې وینا په کې کوئ، د وینا کولو یو څه مخکې د وینا تالار ته ځان ورسوئ.
❖ خپل اورېدونکي وپېژنئ: کله چې ستا د وینا لپاره ټول اورېدونکي راجمع کېږي، نو لومړی هغوی ته سلام واچوئ، او روغبړ ورسره وکړئ، ځکه په دې سره اشنایي رامنځته کېږي او د ویاند او مخاطب اړیکه لا پیاوړي کېږي.
❖ خپل مواد وپېژنئ: که چېرې هغه مواد چې تا د خپلې موضوع لپاره راټول کړي او نه دې وي مطالعه کړي؛ نو ستاسو تشویش او نا ارامي زیاتیږي، په کار ده چې خپله وینا تمرین کړئ.
❖ د مه وکړئ: د تمرین په واسطه خپل تشویش ارام کړئ:
❖ د وینا پر وخت ځان مسجم کړئ: خپل ځان د وینا پر مهال کې تصور کړئ، خپل غږ د غږ چمتووالی، د غږ زیرو بم (د غږ لوړ والی او ټیټوالی) له ځان سره وسنجوئ، کله مو چې ځان بریالی احساس کړ په حقیقت کې مو بریالیتوب تر لاسه کړ.
❖ هغو خلکو ته توجه وکړئ چې ستاسو کامیابي غواړي: هغو خلکو ډېر ګورئ چې تاسې تائیدوي، تاسو ته انګیزه درکوي، او تشویقوي مو، او دوی نه غواړي تاسو ناکامه شئ.
❖ ببننه مه غواړئ: که چېرې تاسو تشویش او نا ارامي احساس کړه او یا مو کومې ستونزې سره مخ شوئ له دې، له دې امله ببننه مه غواړئ، ممکن تاسو مخاطیبن هغه څه ته متوجه کړئ چې ان پرې پوهه هم نه دي، باید ځان غلی ونیسئ.
ځینې خلک مخکې له دې چې وینا پیل کړي ببننه غواړي وایي؛ په ډېرې ببننې سره زه د موضوع د وړاندې کولو لپاره پوره تیاری( چمتووالی) نه لرم، خو یو څو ټکي به ته تاسو ته ووایم، د تالار ګډونوالو ته پوښتنه پیدا کېږي چې یو څوک د وینا لپاره چمتو نه وي، ولې وینا حاضرېږي، چې بیا ببننه غواړي، دا د غونډې په ګډونوالو ملنډې وهل دي او هیڅ کله د داسې کړنې کوښښ مه کوئ.
❖ په اصلي پیغام زور واچوئ: وسیلې ته مه متوجه کېږئ لکه مایک، کمره ... وار خطایي او وېره پرېږدئ، او د پیغام خواته مو متوجه ډېره کړئ، د خپلو مخاطبانو لور ته وګورئ کېدای شي، ستاسو وارخطایي له منځه ولاړه شي.

- نا ارامي او وارخطايي مو په مثبته انرژۍ واړوئ: خپله نا ارامي مهار() کړئ او په هغه انرۍ يې بدله کړئ چې ته پرې وينا مخکې بېولای شې.
- وار په وار خپله تجربه زياته کړئ: تجربه ډاډ رامنځته کوي، چې اغېزمنې وينا لپاره د کلي حيثيت لري.

**د دريځ يا د ستېج پر سر وينا**

تر ټولو غوره وينا کول د دريځ يا د ستېج پر سر راڅرګندېدل او د يو شمېر زياتو ليدونکو او اورېدونکو سره په مستقيم ډول مخامخ کېدل او اړيکه ټينګول دي، په دغه حالت کې لومړنی کار دا دی، چې د غونډې موضوع، موقعيت او د اشخاصو له ګډون څخه ځانونه خبر کړو، او وروسته بيا په دغه ډول غونډو کې په ډېر جرئت سره خبرې وکړو او يا پروګرام مخ ته يوسو.

کله چې د دريځ پر سر راڅرګندېږو د درې شيانو تر تاثير لاندې بايد را نه شو.

- د ګډونوالو د پوښتنو تر تاثير لاندې.
- د ټوکو او شوخيو تر تاثير لاندې.
- د موقفونو تر تاثير لاندې رانه شو، بلکې په پوره جرئت او ډاډ سره پروګرام مخ ته يوسو او د بې زړه توب مخه خپله ونيسو.

**اورېدونکی(مخاطب)**

اورېدل په دې معنا  چې یو شخص کوښښ کوي، ټوله ځیرتیا مقابل لور ته واړوي، او دې ته چمتو شي چې د هغه خبرې ښه په غور سره واوري او ګټه ترې پوره کړي.

**د ښه اورېدونکي په اړه**

- هوښیار خلک اورېدونکي غوږونه لري او خپله پوهه د اورېدو له لارې زیاتوي.
- وینا کول یو هنر دی، مګر غوږ نیول یو مهارت دی.
- د وینا پر وخت تر ټولو ښه ډالۍ چې تاسو یې نورو ته ورکړئ؛ په پوره ځیرتیا سره د هغه خبرو ته غوږ نیول دي.

**اورېدل:** د ډېرو ورځنیو ستونزو سرچینه د نورو خبرې نه اورېدل، او د جانب مقابل په خبره نه پوهېدل یا نه اورېدل دي. پوهان وايي( باید دوه واورو او یوه ووایو) هغه څوک چې ځان په هر څه پوهه ګڼي او اورېدل ورته ارزښت نه لري، په داسې حال کې چې (اورېدل د هغو ټولو وګړو له پوهې چې له موږ سره ګډ ژوند کوي غوره دي). انسان یو خوله او دوه غوږونه لري، باید دوه واوري او یوه ووایي.

څنګه کولی شو له دغه مهارت څخه ګټه پورته کړو؟

- دا باید ومنو چې نور د خبرو کولو حق لري، او د وینا لپاره یو څه ورسره شته.
- د نورو د خبرو د پرېکولو څخه باید ډډه کړو.
- تل هڅه وکړئ؛ د نورو وینا کوونکو خبرو ته غوږ ونیسئ.
- فعاله اورېدنکي اوسئ او هغه څه چې ویونکی یې وايي په سمه ښه تائید کړئ.
- که د ویونکي په خبرو کې شک وینئ لاس پورته کړئ، د خبرو نوبت ونیسئ او بیا پوښتنه کړئ.
- غوږ نیول دا معنا لري، چې تاسو د نورو خبرو ته احترام لرئ.

**د اورېدلو او غوږ نیولو ترمنځ توپیر:**

اورېدل د غږ د درک غیرې ارادي پړاو دی.

غوږ نیول ټاکنیز او او ارادي پړاو دی چې درک او شننه ورسره یو ځای وي.

**د ښه اورېدونکي خویونه:**

- په ورین تندي یې سره یې اوري.
- په خپل ذهن سره یې اوري.
- په غبرګون یا تائید سره یې اوري.
- په بنده خوله یې اوري.
- په مسؤلیت سره یې اوري.

مفاهمه دوله لوري لري؛

لومړی: ویوونکي، دویم : اورېدونکي

د ښه تفاهم لپاره د لېږدونکي سره یو ځای د پېغام اخیستوکي هم ځیني مسؤلیتونه لري، که اورېدونکی او ویوونکی خپل مسؤلیتونه ونه پېژني تفاهم نه رامنځته کېږي.

په ښه تفاهم کې نه یواځې فصیح الفاظ، غوره وینا او بلیغ کلام رول لري؛ بلکې د اورېدونکي ښه او دقیق اورېدل هم رول لري.

**د ښه اورېدونکي په اړه :**

**پنځه واړه حواس د ویناوال خبرو ته متوجه کړئ:** هیڅکله د اورېدو له وخت کې شورماشور مه جوړوئ، قلم په مېز مه وهئ، بل خوا مه ګورئ، پوزه یا بل ځای مه ګروئ بلکې ټول ځان هغه چا ته متوجه کړه ترڅو په پوره تفاهم سره یې خبرې واورې.

**بل چا ته د خبرو وخت ورکړئ:** کله چې پوښتنه کوئ او نظرونه څرګندوئ؛ مقابل لوري ته هم وخت ورکړئ تر څو تاسو ته ځواب درکړي.

**مهم ټکي یاداشت کړئ:** هغه څه چې اورېدل کېږي سملاسي مغزو ته سپارل کېږي، مګر له څو دقیقو وروسته کېدای شي در څخه هېر شي؛ دا معلومات کېدای شي ستاسو لپاره مهم او په مهم ځای کې په کار شي، مهم ټکي یاداشت کړئ په دې سره وینا کوونکی تشویقېږي، کېدای شي په دې کاره سره تاسو ډېر په زړه پورې معلومات درکړي.

**چوپتیا سره زر دي:** ځیني خلک چوپتیا د نه پوهېدو سره برابر بولي؛ مګر داسې نه ده، کله چې څوک وینا کوي خاموشي اختیار کړه، که وخت در ورسېد خپل نظر څرګند کړه، ځکه چوپتیا حکمت دی.

ویناوال ډېر خوشحاله کېږي چې وهڅول شي او خبرو ته یې سر وخوځول شي لکه د هو، نه، ښه، په رښتیا، صحیح ده، په الفاظو سره تشویق کړل شي، په دې ډول سره هم تاسې په ښه مطلب اخیستلی شئ، او هم ویناوال ډاډه کېږي.

**د وینا کول کلیدي اړخونه:**

یو دلیل دی چې ځینې خلک سمه محاوره نه کوي او یا ښه ویناوال نه دي هغه چې په خپلو خبرو کې د خبرو کولو اصول نه درک کوي، څنګه چې لیکل یو لړ قواعد او اصول لري، وینا کول هم اصو او قواعد لري، پېژندل یې موږ ته اړین دي.

هر څومره چې وینا لنډه او روښانه وي، په هماغه کچه به موږ ښه وده وکړو، او اړیکې به مو له نورو سره خوندي پاتې شي.

که وینا یوه دقیقه، یو ساعت یا نیم ساعت وي باید د درې برخو درلودونکې وي.

۱- یو روښانه او په زړه پورې پیل: پیل باید په ایت، حدیث شریف، غوره وینا، بیت او یا هم په لنډې سره وشي اغېزمنه تمامېدای شي.

۲- اصلي موضوع (یواځې د کلماتو کارول بس نه دي، بلکې د خو او ژوندیو بېلګو په وړاندې کولو سر باید د خلکو په ذهنونو کې یو تصویر جوړ کړئ، ځکه بېلګه په وینا کې لکه د مالګې حېثیت لري.

۳- د موضوع په پای کې د خپلې وینا لنډه نتیجه اخیستنه: که موږ چېرته په موضوع حاکم نه اوسو او وینا مو روښانه نه وي، که غواړو او که نه خبرې به مو بې خونده او تکراري وي، موږ د یو ځانګړي هدف لپاره خبرې کوو، نه دا چې خپل ادبیات او خپلې وړتیاوې خلکو ته وښایو په کار ده چې د لغاتونو د ډېرو کارولو څخه ډډه وکړو؛ غوره دا ده چې لنډې او دقیقې خبرې وکړو په خپلو خبرو کې دقیق او محتاط و اوسو.

د وینا کلیدي اړخونه: پاتې

۱- پېغام: له هغه پېغام یا مفکورې څخه عبارت ده، چې تاسو یې غواړئ په خپله وینا کې له مخاطبانو سره شریکه کړئ، دا چې پېغام څه ډول وي، تاسو پورې اړه لري، مګر پېغام باید د پوهاوي وړ وي.

۲- پېغام رسوونکی: تا د یو غږېدونکي په توګه حقیقت کې پېغام رسوونکي یاست، چې ناستو حاضرینو ته په حقیقت کې د یو پېغام د رسولو دنده پرغاړه لرئ، چې باید دا پېغام د اورېدونکو تر غوږونو ورسوئ.

۳- د پېغام رسونې وسایل: تاسو د یو پېغام رسوونکي په توګه څنګه غواړئ، چې پېغام مو اورېدونکي ته انتقال کړئ؟ دپېغام رسونې ډېر وسایل شتون لري، لکه مایک، راډیو، تلویزیون، مجله، اخبار او ...

البته د الفاظو په وسیله، خو هغه چې ډېر اهمیت لري، هغه چې ستاسو د خبرو کولو طرز، د خبرو کولو لحن، د سر خوځول، ستاسو حرکات او د سترګو اړیکې دي چې تاسو ترې کار اخلئ.

۴- د پیغام اخیستونکی:هغه څوک چې په حقیقت کې پیغام ترسه کوي، هغه په حقیقت کې کې د حاضرینو له ډلې څخه دي، او د خبرو اترو په پروسه کې ډېر مهم رول لري، هغه حتی د غږېدونکي او خبرې کوونکي د رسا او خواږه لحن، په پرتله ډېر اهمیت لري.

۵- غبرګون: د هغو غبرګونونو په هرکلي سره چې له خپلو خبرو سره یې ترلاسه کوئ، تاسو مومی چې ایا اورېدونکي او حاضرین مو په هغه څه چې تاسو ورته ویلي پوه شوي که نه؟ غبرګونونه بعضې وختونه خطرناک وي، ځکه تاسو نه پوهېږئ، چې اورېدونکي ځواب او غبرګون به ستاسو د خبرو پر وړاندې څه وي، منفي که مثبت، خو له دې سره سره د اورېدونکو غبرګون مهم دی، ځکه غواړئ ډاډمن شئ، چې اورېدونکو ته مو پیغام په مکمل ډول سره رسېدلی او هغه درکړی که نه؟

## د وینا کولو اداب

۱- رښتیا: خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وایي( رښتیا وایئ ځکه رښتیا ویل ښېګڼې ته لارښونه کوي، او ښېګڼه د جنت لور ته لار ښوونه کوي.

نبي علیه السلام چې کله د ابوطالب له ملاتړ څخه باوري شو، چې د الله تعالی دین خلکو ته بیان کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم صفا غونډۍ ته پورته شو او غږونه یې وکړل، د قریشو ټول خپلونه راټول شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنه ورکړه، چې د لله تعالی یووالی، د ده پیغمبري او د د قیامت ورځ ومني.

کله چې ( وآنذر عشیرتک الاقربین) ایت نازل شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د صفا غونډۍ ته پورته شو او او اوازونه یې وکړل:

ای! بني فهر، بني عدي او د قریشو ټولو خپلونو! ټول قریش راټول شول، ان څوک چې په کومو په کومو مهمو کارونو بوخت وو او راتلای نه شو استازي یې ورته راولېږل چې څه خبره ده؟

ابولهب او د قریشو ټول مشران هم راټول شول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : که زه تاسو ته ووایم چې د مکې د غرونو تر شاه یو لوی لښکر په تاسو حمله کوي، چې ستاسو یې منئ؟

ټولو وویل هو! موږ یې منو؛ ځکه موږ له تا څخه پر له رښتیا بل څه نه دي اورېدلي او ته یو رښتینی انسان یې، رسول الله علیه وسلم ورته وویل: زه تاسې له یو یقیني عذاب څخه ډاروم.

۲- نرمي خبرې وکړئ: نرمي او په زړه پورې خبرې وکړئ، بې خونده، بې ځایه او له ضرر رسوونکو خبرو څخه ځانونه وساتئ.

۳- که چېرې ده کسان خپلو کې سره خبرې کوي، کوښښ مه کوئ چې په خبرو کې یې ور ولوېږئ، او مه د هغوی خبرې پرې کوئ، که غواړې خبرې ورسره وکړئ اجازه وغواړئ، که اجاز یې در نه کړه کوښښ مه کوئ هلته ځانونه ځای کړئ.

۴ـ که څوک د کوم شي په اړه پوښته وکړي، لومړی باید پوښتنه په پوره غور سره واورئ، او فکر پرې وکړئ، وروسته په ارامه قناعت کوونکی ځواب ورکړئ.

**د وینا ډولونه:** وینا کول په عمومي ډول په دوه ډوله ویشل شوي.

**۱ـ سملاسي یا (في البدیهه) وینا:**

هغه وینا چې پرته له کوم تیاري څخه یا پرته له چې له موضوع څخه خبر اوسئ پر موضوع خبرې کوئ.

**۲ـ اګاهانه یا هغه وینا چې مخکې له مخکې ورته چمتووالی نیول شوی وي:** هغه وینا چې ویناوال یې مخکې له مخکې د وړاندې کولو په اړه د پوره معلوماتو او مطالعې سره په غونډه یا تالار کې راڅرګندېږي او په پوره چمتووالي سره وینا کوي.

په وینا کې د فرمولونو څخه کار اخیستل:

د (د.د.م.د) فرمول څخه کار اخیستل:

کله مو چې د خپل لید لوری لپاره الفاظ انتخاب کړل، کولای شئ د ټولو الفاظو چې غواړئ په خپلو خبرو کې ووایئ د (د.د.م.د) فرمول څخه اسفاده وکړئ.

د: دیدګاه یا (لید لوری) لومړی مو افکار او نظریات بیان کړئ، د مثال په ډول کولی شئ و وایئ(( خلک په راتلونکي لسو کلونو کې د تېرو سلو کلونو په نسبت د ډېرو پیسو غوښتونکي دي، او غواړي مالداره شي.

د: دلیل: ستاسو د نظریاتو باور تائیدوي، د مثال په ډول کولی شئ چې ووایئ (( په نشه یې توکو اخته ځونان چې مخکې به ډېر کم لیدل کېدل اوس د تېر کال په نسبت په سلو کې پنځوس سلنه زیاتوالی راغلی او دغه تعداد نور هم په زیاتېدو دی.

م: مثال (بېلګه) که چې په یوه موضوع خبرې وکوئ او هغه خلکو ته بیانوئ، نو خپل لید لوری د مثال سره توضیح کړئ، مثلاً(( د ۱۳۹۰ ه،ش کال په نسبت چې د اکثریت خلکو ته له سولې سره مخالف درلود او د سولې خلاف وو؛ مګر اوسمهال ۹۹٪ سلنه خلک له جګړې ستړي او د سولې غوښتونکي دي.

د: دیدګاه ( لید لوری) د ډېر تاکید لپاره خپل لومړنی لید لوری د دوهم ځل لپاره بیان کړئ، مثلاً: په سوله کې تاسې ډېر په اسانۍ سره کولی شئ پرمختګ وکړئ، او مخکې ولاړ شئ، د جنګ په نسبت؛ جنګ انسان د تباهۍ سره مخامخوي نه د پرمختګ په لور.

**په وینا کې د ( م.ا.س) فرمول څخه کار اخیستل:**

(م) موضوع: د کله مو چې موضوع پیل کړه لومړی باید خپله موضوع معرفي کړئ،  او په دقیقه توګه یې وړاندې کړئ.

(ا، الف): اهمیت: په دې پړاو کې تاسې د وینا کولو، د موضوع او حاضرینو د علایقو ترمنځ ارتباطي پېل پیدا کوئ.

(س) سخنران (وینا کوونکی): په دې ځای کې د وینا کوونکي وړتیاوې فهرستوي او په ځانګړي توګه هغه چې له موضوع سره اړیکه پیدا کوي، په ګوته کوئ، په پای کې یې نوم په واضحه او ځرګنده توګه له سم تلفظ سره بیانوئ.

په ښه وینا کې د (ه.ه.ډ.پ) فرمول څخه کار اخیستل:

که غواړئ چې ښه ویناوال شئ، اسانه خبره ده، یوازې څلور پورتنیو تورو ته په وینا کې ځای ورکړئ.

۱- (هـ )هیله: تر ټولو مهمه خبره دا ده چې هلیه ولرئ، تاسو هغه وخت ښه ویناوال کېدای شئ چې تل په فکر کې د ښه او پیاوړي ویناوال هیله ولرئ، که دا هیله درسره وي، هیڅ شی مو یادې هیلې ته له رسېدو څخه نه شي راګرځولی، مګر یوازې هیله بسنه نه کوي.

(هـ) هوډ: تاسو باید هوډ وکړې چې پر نورو قوي اغېز وښندم، پر خنډونو برلاسی شم او هر هغه کار وکړم چې ما کې تغیر او ښه والی راولي.

(ډ) ډسیپلین: په ځان کې باید د چمتو والي، پلان جوړونې او له وړاندې د بریالیتود خوب لیدلو ډسیپلین په ځان کې پیدا کړئ، د اړینو مهارتونو په زده کولو او له زیار پرته د بریالیتوب بل هیڅ راز نشته.

(پ) پرېکړه: بالاخره پرېکړه وکړئ، چې له هرې کوچنۍ ماتې وروسته باید راپورته شم او په ژوند کې د هر خنډ پر وړاندې مقاومت وکړم.

**مکث**

په وینا کولو کې مناسب مکثونه یا وقفې کول د قدرت د ترلاسه کولو په خاطر مکث (قفه) کارول کېدای شي، دا په وینا کې تر ټولو قوي طریقه ده، چې کولی شئ په وینا کولو کې یې زده کړئ، هغه مکث کول دي، ښایست په خاموشی کې دی، چې کولی شئ د یوې کلمې بلې کلمې یا د یو پراګراف بل پراګراف ته په مناسبو وقفو ورتلل کولی شئ د ډېر تمرین په واسطه ترلاسه کړئ.

ځیني ویناوالان چې کله وینا کوي احساساتي کېږي، په دېرې تیزي او د وقفې پرته خبرې کوي، مګر کله چې ارامه اوسئ او په راحت خبرې کوئ، ستاسو وینا په مخاطبانو هم ډېر اغېزه پرېږ باسي او مخاطب تر تاثیر لاندې راولي.

**مکثونه په څلور ډوله ویشل شوي**

۱ـ حسي مکث یا وقفه: دغه ډول وقفې یا مکث څخه د هرې جملې په پای کې په مناسب ډول کار واخلئ، ترڅو مخاطبین مو بلې جملې ته ځان اماده کړي او په غور سره یې واوري.

د مکث پرته بل هیڅ شی نه شي کولی چې د مخاطبیانو توجه جلب کړي، کله چې دمه کوئ؛ اورېدونکي خاموشه پاتي کېږي، او د ټولو فکر ستاسو طرف ته اوړي تر څو په دې پوه شئ چې ولې خاموشه شوې.

۲ـ د تعلیق مکث: کله چې غواړئ د خپلو خبرو ځانګړې نقطې د مخاطب په ذهنونو کې پاتي شي، له دې مکث څخه استفاده وکړئ، کله چې هغه کلمه کاروئ مخکې او ورسته ترې لږه وقفه وکړئ، تر څو اورېدونکي د هغه څه په ارزښت چې تاسو بیان کړه پوه شي.

۳ـ تاکیدي مکث (وقفه): د یوې خاصې نقطې د تاکید لپاره له دې مکث څخه کار واخلئ، مثلاً(( مهمترین شخص په دې کور کې څوک دی؟)) لږه وقفه اخلم او ورسته به رنګارنګ ځوابونه واورم؛ ځیني به وايي(زه) ځیني به وایي (ته) ... لږه وقفه کوم او وروسته ټولو ته اشاره کوم چې حق ستاسو دی! تاسي مهمترین شخص په دې کور کې یاست)) وروسته څو ثانیې وقفه کوم تر څو دغه خبره د مخاطبینو په ذهنونو کې پاتې شي، وروسته بیا نورې جملې د همدې په تسلسل ووایئ.

۴ـ د جملې په اخر کې مکث (وقفه) :

د دې وقفې څخه په هغه ځای کې استفاده کېږي چې یوه جمله یا نقل قول په مکمل ډول پای ته ورسېږي.

## د غږ ډولونه

غږونه عمومي په درې ډوله ویشل شوي

۱ـ د انسان غږ

۲ـ د طبیعت غږ

۳ـ مبهم غږ چې د اورېدو وړ نه وي.

**غږ او د غږ روسونه**

د غږ ښه تشریح:

۱ـ په ښکاره او واضحه ډول د الفاظو له بیانولو څخه عبارت دی، داسې ډېر کم خلک شته چې په عادي ډول واضحه او صافې خبرې کولی شي، ځیني وخت موږ په یوه موضوع نه پوهېږو هغه ځکه چې اصلي وجه یې په کلمو کې د ځینو حروفو نه ادا کول دي؛ او یا هم په جمله کې د یو لفظ پرېښودل دي.

۲ـ د خپل اواز نقشه يا اندازه کول:

د خبرو کولو پر مهال ډېره مهمه ده، چې خپل اواز داسې برابر کړئ چې ټولو مخاطبينو ته مو په ښه شان ورسيږي.

۳ـ خپل اواز کنټرول کړئ:

کله چې وينا کوئ، په ډېرې ارامۍ سره لږه ژوره سا واخلئ، خپلې جملې پرته له عادي ډول څخه لوړې او خو په ارام او سنجيده ډول سره وړاندې کړئ، په پيل کې مو بايد غږ يو څه لوړ او وروسته په قرار، قرار را کم کړئ تر څو د مخاطبانو توجه د ځان لور ته را واړوئ، او په چالاکۍ سره خبرې مه کوئ.

۴ـ عادي او با جراته اوسېدل: کله چې تاسې وينا پيلوئ په لومړي سر کې کله چې معرفت کوئ ټول مخاطبين ستاسو طرف ته متوجه کيږي، په دې وخت کې تاسې د لږې ويرې احساس کوئ، د دې لپاره چې دا ويره له منځه ولاړه شي، کوښښ وکړئ چې د خپلې وينا پر وخت د خپلو لاسونو، سترګو او مخ په حرکاتو سره ځان ته قوت او ډاډ ور وبښئ ستاسو قدم وهل، د مخاطب لور ته د لاس خوځول، مسکی کېدل او خپلو مخاطبينو ته کتل، دا هغه دي چې له تاسو سره په ډاډمنه وينا کې مرسته کوي.

۵ـ د نوټ کارول: هيڅ کله کوښښ مه کوئ چې وينا ټوله په حافظه کې له ځان سره واخلئ، د دې پر ځای چې د له دې ستونزې سره مقابل وکړئ، د ځان سره د د اړوندې موضوع خاص ټکي له ځان سره واخلئ، نوټ لرل د بې زړه توب حس له منځه وړي.

۶ـ د موضوع او وينا تمرين کول:

مخکې له دې چې تاسې خپله وينا په اصلي ځای کې وړاندې کړئ، لازمه ده چې يو ځل يې په هماغه ډول وړاندې کړئ څنګه يې چې دغوندې په تالار کې وړاندې کوئ، د وينا کولو پرمهال د ستونزو سره مخ نه شئ.